مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوکتور محمد عثمان تره کی

۲۰۲۶ / ۰۵ / ۰۶

# ولې باید له طالبانو څخه مشروط ملاتړ وشي؟

د محترم جلالت مآب جهانی احساسات د طالبانو د کړنو د یوې برخې په اړه د درناوي وړ دي. ربښتیا هم افغانستان د طالبانو تر واکمنی لاندې، د فکري او تکنولوژی انقلاب په دې پیړی کې، په ټولنیزو او فرهنګي ډګرونو کې د سقوي دورې په شان تیارو کې ساتل شوی دی. خو دلته زه د محترم لیکوال، څیړونکي، مورخ او په پای کې شاعر جهانی پام، چې داسې ښکاري زما له خوب څخه خپه شوی، څو ټکو ته را اړوم :

۱- محترم جهانی ! تاسو د اشغالګرو ځواکونو سره د همکاری ( که څه هم لنډ مهاله وه) له امله د سیاست په ډګر کې یوه ماته خوړلې څېره ګڼل کېږئ. له خپل مسلک څخه بهر باید ځان د نورو لپاره د سیاسي وعظ او نصیحت په دریځ کې و نه دروئ. خلک هیله لري چې د عمر په دې منی کې له نازک خیاله شاعر څخه شعرونه واوري او خوند تري واخلي.

۲- عثمان تره کی تل له طالبانو څخه مشروط ملاتړ کړی دی. مشروط ملاتړ دې ته ویل کېږي چې که طالبان د دین او مذهب په وسیله د پاکستان د تېریو پر وړاندې ځواب ور نه کړي او د ډیورند کرښه له منځه یونسي ، نو د خپل موجودیت منطق له لاسه ورکوي. یعني باید له صحنې ووځي. دا د طالبانو ادعا چې ګواکې دوی یوازینی ډله ده چې د افغانستان خلک یې مسلمان کړي، د خندا وړ ده. د افغانستان خلک مسلمان وو، دي او وي به.

۳- له طالبانو سره عقده مند او تاوتریخجن چلند، که له هرې سرچینې (کورني یا بهرني) وي، هغوی لا ډېر بنسټپال او رادیکال کوي. له همدې امله نړی له احتیاطه نه کار اخلي: بهرني رسنی د طالبانو رسمي اعلامیې خپروي، او بهرني ډیپلوماتان په منظم ډول ورسره اړیکې لري. دا ټول د دې لپاره دي چې هغوی مطلق انزوا ته ولاړ نه شي. مطلق انزوا طالبان لا زیات رادیکال کوي او د القاعده او داعش تر سیوری لاندې یې راولي. دا ډېر نازک موضوع ده او یوازې هغه کسان یې درک کولی شي چې سیاست یې زده کړی وي.

۴- طالبانو ځان د یوه واقعیت په توګه (د ځینو په اند یو تریخ واقعیت) د زور له لارې پر افغانستان او نړی تحمیل کړی دی. هغوی هر خپل مطلوب او نامطلوب اقدام ته د دین پوښ ور اغوندي. د جهانی او تره کي مشورو ته د یوې توت دانې په اندازه ارزښت هم نه ورکوي. ځکه چې په زور راغلي اویوازې د زور په کارولو، هغه هم له بهر څخه، له صحنې وتلی شي.

هیڅ هېواد حاضر نه دی چې د طالبانو د لرې کولو لپاره افغانستان ته ( د امپراتوریو هدیره ) د بخت ازمایلو په نیت پوځونه واستوي.

۵- په افغانستان کې دننه او بهر داسې مطلوب اپوزیسیون هم نشته چې د طالبانو ځای ونیسي. له همدې امله، عثمان تره کی بله لار نه لري پرته له دې چې له طالبانو څخه مشروط ملاتړ وکړي. یعنی د هغوی د ښو کارونو ستاینه او د بدو کړنو غندنه وکړي.

۶- د تره کي د وروستیو کلونو لیکنې او مرکې ټولې له طالبانو څخه د انتقاد څخه ډکې دي. که محترم جهانی دا نه دي لوستي یا نه دي اورېدلي، دا د هغوی خپله نیمګړتیا ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

۷ـ افغانستان د بد او بدتر تر منځ په انتخاب کې بند پاتې دی. که طالبان صحنه پرېږدي، د هغوی په میدان کې فعاله بدیل د جګړه مارو جنایتکارو ډلو دي چې په کمین کې ناست دي. اوس مهال هره ډزې (فیر) چې د جهانی له لوري د طالبانو پر ضد کېږي، ګټه يې جګړه مارو او د هغوی بهرني ملاتړي، يعني پاکستان ته رسېږي. د بد او بدتر تر منځ انتخاب کې عقل دا حکم کوي چې بد انتخاب شي.

۸ـ محترم جهانی! زه هم ستاسو په څېر دا احساس لرم چې وطن په خراب حالت کې دی. خو کله چې یوازې د طالبانو پر ضد مخالفت کېږي، باید حل‌لاره هم وړاندې شي. ستاسو په انتقادونو کې حل‌لاره نه ترسترګو کېږي.

۹ـ ښاغلی جهانی ! افغانستان د قومي، فرهنګي، سیاسي او مذهبي اختلافاتو په اور کې سوځي. د روڼ اندو تر منځ د طالب پلوه او طالب ضد په نوم د يوې نوې جبهې پرانستل د علمي ټولنې په ګټه نه ده. له دې اختلافه د ملي وحدت دښمنان ګټه اخلي.

۱۰ـ ښاغلی جهانی! تاسو یو د قدر وړ لیکوال او شنونکی یاست. په شعر ويلو کې اوس مهال څوک ستاسو د شعری نبوغ سیالي نه شي کولی. خو ښه به دا وي چې سیاست د همدې مسلک خلکو ته پرېږدئ.

۲۰۲۶/۰۵/۰۴



آرشیف: مطالب نشر شدۀ دوکتور محمد عثمان تره کی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ